# د افغانستان اسلامي جمهوریت
## د کابینې مصوبه
## (۱۰) ګڼه
## نیټه ۱۳۹۹/۴/۲

د افغانستان اسلامي جمهوریت د ۱۳۹۹ کال کابینې لسمه غونډه د جلالتمآب جمهور رئیس محمد اشرف غني په مشرۍ د چنګاښ میاشتې په (۲) نېټه دوشنبې ورځ له غرمې مخکې د کابینې غړو او والیانو په ګډون د ویډیویي کنفرانس له لارې په ارګ کې جوړه او دغه پرېکړې یې وکړې.

**جلالتمآب ولسمشر پیلیزې خبرې او له اجنډا مخکې ځینې مهمې موضوع ګانې:**

- د هیواد په امنیتي او دفاعي ځواکونو د وروستیو ترهګري بریدونو غندنه او د کابل په پغمان ولسوالۍ کې د سیاسي څېړونکي، شاعر او لیکوال اسد الله ولوالجي پر کورنۍ د وروستي ترهګري برید غندنه؛
- د سولې په پرمختګ کې د یو مهم شرط په توګه د امنیتي او دفاعي ځواکونو راخلاصولو په موخه د اړونده امنیتي بنسټونو له لوري د هغو شمیر امنیتي او دفاعي ځواکونو نوملړ( لستونو) نهایي کولو په اړه، چې د طالبانو سره په بند کې پاتې دي؛ د معلوماتو وړاندې کول؛
- د جمهوري ریاست مرستیالانو دفترونو ته د هغه شمیر دولتي کارکوونکو او ملکي وګړو نومونو شریکولو په اړه، چې د طالبانو په بند کې دي؛ ملکي ادارو او ولایتي مسؤلینو ته دنده سپارل؛
- د کرونا وېروس له امله د اوښتو زیانونو او هغو هیوادوالو سره، چې د کرونا وېروس اخته کېدو له امله یې د کورنۍ غړي او یا خپلوان له لاسه ورکړي د ژورې خواشینۍ څرګندول او د کرونا په وېروس اخته ناروغانو ته عاجلې شفا غوښتنه او د هیوادوالو له لوري د عامې روغتیا وزارت د روغتیایي لارښوونو په پام کې نیولو ټینګار؛
- د رسنیو له کړنو په ځانګړي توګه د انتقادي - څېړنیزو راپورونو له وړاندې کولو هرکلی او د کرونا وېروس سره د مبارزې بودجې څخه د ناوړې ګټې اخیستنې له امله د هشت صبح ورځپاڼې له لوري په څېړنیز راپور کې د لګولو شویو تورونو څېړنو په موخه د اړوندو بنسټونو ته دنده سپارل؛
- د رسنیو آزادي په برخه کې د پرمختګونو،د ټولیزو رسنیو قانون ارزښت، د حکومت له لوري د بیان ازادي او د هیواد رسنیو څخه غوښ ملاتړ او بیا ځلي کتنې په موخه د ملي شورا څخه د ټولیزو رسنیو قانون غوښتنې په اړه عدلیې وزارت ته دنده سپارل او د رسنیو او اړونده بنسټونو بیا نظر اخیستلو ته اشاره کول؛
- د ملي بودجې ثبات لپاره د احتیاطي بودجې په توګه د پیسو نړیوال صندوق IMF له لوري پور ورکړې په اړه معلومات وړاندې کول؛
- د ننګرهار والي څخه د بهرنیو اسعارو پر ځای د افغانیو کاروني عام والي کړنو له امله قدرداني کول؛
- د جینوا کنفرانس جوړېدو چمتووالي پیل په موخه د معلوماتو وړاندې کول؛ د پروژو پلي کېدو، خلکو ته د خدمتونو رسولو بهیر چټکتیا کې د ډېر خوځښت رامنځته کولو په موخه او په راتلونکو پنځو میاشتو کې په ولسوالیو او کلیو د تمرکز مهمو ټکو ته اشاره کول؛
- د بودجې لګښت او د مالیې وزارت له لوري د عوایدو راټولولو څرنګوالي راپورونو بهیر چټکوالي په اړه وزارتونو او دولتي ادارو ته دنده سپارل؛
- د طالبانو له لوري د هیواد را خلاص شویو امنیتي ځواکونو ډاډګیرنې او ستاینې په موخه والیانو ته دنده سپارل؛

**د اجنډا لومړی موضوع:** په هیواد کې د کرونا حالت په اړه لنډ راپور؛
**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزارت نوماند او سرپرست وزیر

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱-۱ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د هیواد په کچه د کرونا وېروس سره د مبارزې ولایتي کمیټو سره په همغږۍ په مرکز او ولایتونو کې د اخته کسانو، روغو او مړه شویو کسانو غیر رسمي شمیر راټول؛ د حکومت رهبري غونډې ته له وړاندې کولو وروسته دې د کابینې بلې غونډې ته وړاندې کړي. | څلور ورځې |

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۱-۲ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت په مرسته د کرونا ویروس سره د مبارزې په ډګر کې د عامه پوهاوي تګلارې پلي کیدو څرنګوالي په اړه هر اړخیز راپور چمتو ، د حکومت رهبري غونډې ته له وړاندې کولو وروسته دې د کابینې غونډې ته وړاندې کړي. | یوه اوونی |
| ۱-۳ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د اړونده نړیوالو بنسټونو په مرسته په هیوادوالو باندې د کرونا ویروس اغیزې د هغوی ایمني سیستم، د بدن مقاومت کچې، عمر او ویني ګروپ څرنګوالي ته په کتو سره علمي شننه ترسره او پایله دې د کابینې غونډو ته وړاندې کړي. | دری اوونی |
| ۱-۴ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې ا.ا.ج کابینې د ۱۳۹۹/۳/۲۶نیټې (۹) ګڼې مصوبې لارښوونو په پام کې نیولو سره د اکسیجن جوړولو په اړه د پانګې اچونې جلبولو او د مرکز او ولایتونو په کچه د اکسیجن ویش مرکزونو جوړلو په اړه هر اړخیزه طرحه چمتو او د حکومت رهبري غونډې ته دې وړاندې کړي. | دوه اوونی |
| ۱-۵ | د ملي تدارکاتو اداري ته دنده سپارل کیږي، چې د اکسیجن را نیولو(تدارک) په برخه کې د عامې روغتیا وزارت اړتیاوو پوره کولو په موخه د قراردادونو بهیر چټکوالي په اړه ګامونه واخلي. | - |
| ۱-۶ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې ا.ا.ج کابینې د ۱۳۹۹/۳/۲۶نیټې (۹) ګڼې مصوبې لارښوونو په پام کې نیولو سره د کرونا ویروس درملنې په موخه د نباتي او بوټو موادو څخه په ګټې اخیستنې سره د دودیزې درملنې تجربو څرنګوالی تر څیړنې او کتنې لاندې ونیسي او پایله دې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | دوه اوونی |

**د اجنډا دویمه موضوع:** د کرونا ویروس د خپریدو مخنیوي لپاره د ځانګړې شوې بودجې د لګښت راپور ؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عامې روغتیا وزارت نوماند او سرپرست وزیر؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۲ | د عامې روغتیا وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د کرونا ویروس د خپریدو مخنیوي لپاره د ځانګړې شوې بودجې د لګښت راپور د مالیې وزارت سرپرست، د جمهوري ریاست د چارو اداري لوی رئیس او نورو اړونده بنسټونو په ګډون د جمهوري ریاست لومړي مرستیال تر نظر لاندې کمیته کې ولایتونو ته د سرچینو ویش معیارونو څرنګوالي په اړه تفصیل او ډیرې روښانتیا، د لګښتونو اغیزمنتیا څرنګوالي،د لومړیتوبونو د ټاکلو ډول، د ډالرو د بیې محاسبې څرنګوالي، په یو نااړین توکي (۱۱) میلیونو ډالرو لګښت څرنګوالي،په همدې ډول UNICEF،WHO او WFP له لوري د (۶۳) میلیونو ډالرو لګښت په اړه تفصیل وړاندې کولو او ولایتونو ته د پوهاوي ورکړې په موخه (۹،۵) میلیونو ډالرو ځانګړې کیدو او لګښت تفصیل څرنګوالی چمتو او د حکومت رهبري غونډې ته دې وړاندې کړي. | دوه اوونی |

**د اجنډا دریمه موضوع:** د دولتي شرکتونو نمونوي بنسټ لیک (اساسنامه)؛

**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د مالیې وزارت سرپرست او ښاغلی د عدلیې وزارت مالي او اداري مرستیال ؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۳ | د دولتي شرکتونو نمونوي بنسټ لیک (اساسنامه) په اصولو کې تصویب ده؛<br>عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې په اوه څلویښتمه ماده کې د دولتي شرکتونو د کلنې راپور وړاندې کولو سربیره د راپور ورکولو په اړوند حکمونه داسې تنظیم کړي، چې شرکتونه د خپلو کړنو،عوایدو او لګښتونو راپور هر څلور میاشتې وروسته د کابینې غونډې ته او هره میاشت د جمهوري ریاست د چارو اداري لوی ریاست ته وړاندې کړي او طرحه له سمولو وروسته د خپریدو او نافذیدو په موخه نهایي کړي. | دوه اوونی |

Administrative Office of the President

**د اجنډا څلورمه موضوع:** د ودانیزو سرغړونو څخه د مخنیوي مقررې طرحه؛
**وړاندې کوونکی:** ښاغلی د عدلیې وزارت مالي او اداري مرستیال او ښاغلی د کابل ښاروال ؛
**موخه:** د ښارې پلان سره سم د لوړپوړیزو ودانیو معیاري کولو ته زمینه برابرول،د ښارونو په چوکاټ کې له تجزیې،څپلسري ګټې اخیستنې، غیر پلاني او غیر معیاري ځمکو څخه مخنیوی، د غیر پلاني او غیر معیاري ودانیو له جوړولو، پراختیا ورکولو او ډیروالي څخه مخنیوی، د بنسټیزو ودانیو او عامه ښاري اسانتیاوو څخه ساتنه او د چاپیریال ساتنې اصولو په پام کې نیول؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۴ | د ودانیزو سرغړونو څخه د مخنیوي مقررې طرحه د تصویب وړ ونه ګرځیدله؛ عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د ښار جوړونې او ځمکو وزارت او کابل ښاروالی په مرسته، د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې یاده طرحه په جریمو د بیا کتنې، عامه او خصوصي ملکیتونو ته د ور اوښتو د تاوانونو تناسب، د سرغړونو ډول او د پخوانیو او اوسنیو جریمو په اړه د کړنو څرنګوالي روښانه تفکیک،د زلزلو او طبیعي پیښو څخه د مخنیوي په موخه د ودانیزو معیارونو په پام کې نیولو، د خاورې د کره کتنې لپاره د معیارونو ځای پر ځای کولو، د ودانۍ لوړوالي او د پوړونو شمیر، د ګاونډیانو حقونو پام کې نیولو او په طرحه کې د لیکل شویو کمیټو او کمیسیونونو دندو معلوملو ته په کتو سره طرحه سمه او د کابینې بلې غونډې ته دې وړاندې کړي. | دوه اونۍ |

**د اجنډا پنځمه موضوع:** د هیواد د نورو والیانو په استازیتوب د تخار والي په خبرو او وړاندیزونو تصمیم نیول؛
**وړاندې کوونکی:** ښاغلی عبدالحق شفق د تخار والي؛

| | د کابینې پرېکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۵-۱ | اطلاعاتو او فرهنګ وزارت ته دنده سپارل کیږي، چې د عامې روغتیا وزارت او د ملي راډیو ټلویزیون لوی ریاست په مرسته د جمهوري ریاست د عامه او ستراتیژیکو اړیکو ادارې سره په پوهاوي د تبلیغاتو موخیز (هدف مند کیدو) او پراخیدو څرنګوالي په اړه، په مرکز او ولایتونو کې د کرونا ویروس سره د مبارزې په اړه کره او پر وخت اطلاع رسولو کې د ویندویانو تر منځ د همغږي رامنځته کولو او په ټولیزو رسنیو کې د حکومت رغنده شتون په اړه کره وړاندیزونه چمتو او د حکومت رهبري غونډې ته دې وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۵-۲ | د جمهوري ریاست د عامه او ستراتیژیکو اړیکو ادارې ته دنده سپارل کیږي، چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت او ملي راډیو ټلویزیون په مرسته د ویاندویانو ټاکلو لپاره د معیارونو جوړولو او په ادارو کې د هغوی د اړتیاوو ګوته کولو ته په کتو سره د حکومت د ویندویانو تر منځ د دولت د کړنو او لیدلوري په وړاندې کولو کې د همغږي په موخه یو میکانیزم جوړ او کابینې راتلونکو غونډو ته دې وړاندې کړي. | یوه میاشت |
| ۵-۳ | عدلیې وزارت ته دنده سپارل کیږي چې د اړوندو ادارو په مرسته د جمهوري ریاست دویم مرستیال تر نظر لاندې؛ په جرګې یا اصلاحي شورا کې د شخړو حل قانون طرحه د روښانه شرطونو وضع کولو ته په کتو په عرفي پریکړو کې د پولو ټاکلو پام کې نیولو او د جرګو پریکړو حقوقي ځای ( جایګاه ) په ځانګړې توګه په مالي شخړو حل کې او په هغو شخړو کې چې جوړ جاړی یې د ټولنیز نظم لامل ګرځي؛ بیا کتنه ترسره او له پړاوونو یې تیره کړي. | دوه میاشتې |

**شپږمه موضوع:** بیلابیلې پریکړې:

| | د کابینې پریکړه : | موده |
|---|---|---|
| ۶-۱ | دولتي بنسټونو او والیانو ته دنده سپارل کیږي، چې د هغو شمیر دولتي کارکوونکو او ملکي وګړو نومونه ، چې د طالبانو په بند کې پاتې دي؛ د جمهوري ریاست مرستیالانو دفترونو سره شریک کړي. | عاجل |

| د کابينې پريکړه : | | موده |
|---|---|---|
| ۶-۲ | واليانو ته دنده سپارل کيږي، چې د هيواد هغه شمير امنيتي او دفاعي ځواکونه، چې د طالبانو له بند څخه راخلاص او خپلو ولايتونو ته ستنيږي، ډاډګيرنه او ستاينه وکړي. | - |
| ۶-۳ | د جمهوري رياست د چارو ادارې لوی رياست ته دنده سپارل کيږي، چې د ماليې وزارت او اړونده ادارو په مرسته د کرونا ويروس سره د مبارزې بودجې څخه د ناوړه ګټې اخيستنې له امله د هشت صبح ورځپاڼې له لوري په ځيرنيز راپور کې لګول شوي تورونه وڅيړي او د تصميم نيولو په موخه دې پايلې د حکومت رهبري غونډې ته وړاندې کړي. | عاجل |
| ۶-۴ | عدليې وزارت ته دنده سپارل کيږي، چې په پارلماني چارو کې د دولت وزارت له لارې د تمويلزو رسنيو قانون طرحه د بيا کتنې په موخه د ملي شورا څخه راوغواړي او د سمونو يا نوې طرحې اړتيا په صورت کې د اړوندو بنسټونو او رسنيو د نظرونو اخيستلو څخه وروسته د جمهوري رياست دويم مرستيال تر نظر لاندې د رسنيو خونديتوب او د کابينې قوانينو کميټو کې بحث او نهايي کوي او د تائيد په موخه دې کابينې غونډې ته وړاندې کړي. | څلور ورځې |
| ۶-۵ | واليانو ته دنده سپارل کيږي، چې خپلو اړونده ولايتونو کې د بهرنيو اسعارو پر ځاي د افغانۍ کارولو او عامولو په اړه ګامونه واخلي. | - |
| ۶-۶ | وزارتونه او دولتي ادارو ته دنده سپارل کيږي، چې د بودجې لګښتونو څرنګوالي او د پرمختيايي بودجې لګولو وړتيا معلومولو سره يوځاى د خپلو عوايدو راټولولو راپور د ادارې د لومړي شخص په لاسليک؛ د توحيد او کابينې غونډې ته د وړاندې کولو په موخه ماليې وزارت ته واستوي. | درى اوونى |

- د مصوبې پلي کېدو څخه څارنه د جمهوري رياست چارو ادارې لوی رياست د کابينې چارو سمون رياست په غاړه ده.

**محمد اشرف غني**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت رئيس**